فرهاد ویاړ


۱۵.۰۲.۱۰

## ويولتاپارا، د مينې او مبارزې ګوګل

ويولتاپارا د لاتيني امريکا د چيلي وتلې او مبارزه ښيره ده. نوموړې موسيقي او ترانه له خپلي مور زده کړه. مور يې يوه دهقانه وه چې د ورځني کار پر وخت يې کليواله دوديزه سندرې زمزمه کولې. ويولتاپارا وروسته د خپل ورور په هڅوني د چيلي ګوټ ګوټ ته سفر وکړ او کليواله سندرې يې راټولي کړې.

دا اوږده سفرونه لامل شول چې د ويولتاپارا خصوصي او حرفوي ژوند بدلون ومومي او ولسي هنر او مبارزه موسيقي معرفي او له کليواله او دوديزه سندرو سره خداي پاماني وکړي، خو هيره دې نه وي چې د دهقانانو واقعي ژوند او د چيلي د عادي خلکو د ژوندانه چاپيريال تل د هغې په ترانو کې خپل ځاي وساتو او دې ډول ترانو د نوې ترانه وېلو غورځنګ په اړانه کې ځاي پيدا کړ او په ورو ورو د لاتيني امريکا هيوادونو ته يې هم لاره ووهله او په ټولې نړۍ کې يې ډېر شمير پلويان پيدا کړل. د نړۍ د ديکتاتورۍ ضد او آزاد غوښتونکو غورځنګونو د دې ترانو څخه الهام واخيست او د ولسي پرګنو په هڅوني کې خورا زيات رول ولوبو.



ویولتاپارا، د سیاسي ترانو تر څنګ د میني ترانې هم ویلې، خو په دې ترانو کې یې هیڅکله انساني ارزښت او د ژوند واقعیتونه له یاده نه ویستل. څه چې د ویولتاپارا ترانو ته سمسورتیا وربخښي د ژوند د واقعیتونو په بیانولو کې د هغې صمیمت او صداقت و.

ویولتاپارا، کله به چې بیکاره شوه غالۍ به یې اوبدلې او په دې توګه یې د خپل کارګري ژوند واقعیت ښکاره کاوه.

دې چیلې مبارزې سندرغاړې په ۱۹۶۷ کال کې ځانوژنه وکړه او د موسیقۍ نړۍ یې پریښوده خو آواز یې د تل لپاره د چیلیانو په منځ کې د مبارزې او د آزادۍ غوښتونې یادګار وګرځید.